لیکوال: ملک اشفاق
ژباړن: زاهد خلیلي

۰۸ نومبر ۲۰۱۴

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۵

۲۳ کاله په مصر کې

ابن خلدون په مصر کې ۲۳ کاله تیر کړل د (۷۸۴ ــ ۸۰۸) پورې ؛خو، دومره د غمه ډک او خطرناک نه؛ مګر، دلته ابن خلدون زیاتي مادي ګټې ترلاسه کړې.

هغه ژوند، چې ابن خلدون په شمالي افریقا کې تېر کړی وه، هغه ډیر خطرناک او د ستونزو نه ډک وه، د هغه ځای ژوند به، کله د غربت سره مخ کړ او کله به یې لوړو پوړیو ته ورسوه، په مصر کې ابن خلدون د یو عادي فرد په څېر ژوند کاوه، د سیاسي چارو سره یې هیڅ تړاو نه وه؛ مګر، په شمالي افریقا کې په سیاست کې برخه اخیسته، په مصر کې یې سیاسي کالي وغورځول او د یو عالم، فاضل او محقق شخص کالي یې په تن کړل، په مصر کې ورسره د دوه سترو کارونو سره مخ شو، یو یې د کورنۍ له منځه تلل او بل د ستر فاتح امیر تیمور سره لیدل.

په علمي کارونو، کې، یې دوه ستري لاسته راوړنې درلودې، یانې مشهور کتابونه تاریخ او مقدمه یې ولیکل، دا کتابونه یې مصر ته د راتګ نه مخکې بشپړ کړي وه، موږ ته په دې اړه مالومات نشته، چې په مصر کې د اوسیدو په دوران کې یې کوم کتاب لیکلی دی او کنه، هو! هلته ستري کتابخانې موجودې وې او کیدای شي، چې د خپل کتاب په درستولو کې یې د هغو مأخذونو نه ګټه اخیستي وي، هغه په مصر کې د خپل ژوند ټول حالات د مرګ د وخت پورې ولیکل، کله، چې په شام کې وه؛ نو، شمالي افریقا د هیوادونو په اړه یې تفصیلي لیکنې وکړې او هغه یې د امیر تیمور مخې ته وړاندې کړې، په دې کې هیڅ شک نشته، چې د خطبو او تدریس پر مهال یې خپل نظریات او فلسفه هم بیان کړي ده.

په خپل وتلي کتاب مقدمه کې د مصریانو په اړه داسي لیکي:

مصری داسي قوم دی، چې د عیش، عشرت او د لوبو له نندارې نه بې پروا دی، د ژور فکر او راتلونکي لید خاوندان دي. ابن خلدون وایي، چې ددې وجه د مصر پریوت(موقعیت) دی، د مصر اقلیم هم د مصر په خلکو باندي ژور اغېز لري، په دې وخت کې د مصر واکمن یو د بل سره په جګړو بوخت وه او د حسد او کینې فضا موجود وه.

د هغه په خطبو کې به وتلی مؤرخ او د حدیثو ستر استاد او پوه ابن حجر عسقلاني هم موجود وه، ابن حجر په خپل کتاب (د مصر قاضیان) کې وایي، چې، زه به زیاتره وخت د هغه خطبو ته حاضریدم او د هغه د علم په ځانګړي ډول د تاریخ د علم نه به مې ډیره استفاده کوله، هغه د علم خزانه وه، یو ستر شاعر وه او یو ښه نقد کوونکی هم وه، په حکومتي اصولو او حکومت باندي ښه پوهیده.

ددي تر څنګ ابن حجر په ابن خلدون باندې څه نيوکې هم کړيدي، هغه وايي، ابن خلدون يو تکړه مؤرخ وه؛ خو، په حقيقي علم باندې دومره نه پوهيده، په ځانګړي ډول د ختيځو هيوادو په تاريخي پيښې باندې يې پوره برلاستيا نه درلوده، مقريزي د هغه د کتاب ستاينه کړې؛ خو، ابن حجر پرې نيوکه کړې ده، ابن حجر وايي، هغه څه چې د ابن خلدون کتاب مقدمې ته يې بريا ورکړې، هغه د هغه د بيان طرز او په مهارت سره د الفاظو بيان دی، ابن حجر د هغه قاضي توب په اړه وايي، چې، ابن خلدون ډير جدي وه، په داسي حال کې، چې مصريان د دومره جدييت او سختوالي سره عادي نه وه، هغه د لوړ پوړو، کاتبانو، چاراوکو او شاهدانو سره د حد نه زياته سختي کوله، ابن حجر په خپلو ليکنو په ابن خلدون باندې ديرې نيوکې کړي دي، ابن حجر وايي، ابن خلدون د خلکو سره مينه کمه او نفرت يې زيات کاوه، د خلکو سره به ډير په تونډ حالت کې مخ کيده، د عدالت خوني نه بهر به يې نرمي کوله، خلکو هيڅ نه خوښوه او خلک به هغه نه ليرې ګرځيدل.

دغه خبرې او نيوکې د شخصي تعصب او کيني ښکارندوی دي، د ستر مؤرخ ابن خلدون يو ستر دښمن البش بشي نوميده، بشي د ابن خلدون سرسخت دښمن وه، هغه هم د مصر دقاضيانو تاريخ ليکلی دی، د هغه ليکل شوی کتاب زما په لاسونو کې نشته، د هغه خبرې يوازې ابن حجر په خپل کتاب رانقل کړي دي.

د ابن حجر ذکر شوې خبرې ډيرې عجيبي دي، هغه د ستر مؤرخ د شخصيت دټيټولو عجيبه کوښښ کوي، د ابن حجر په شان نور سترو فقهاوو هم په ابن خلدون باندې نيوکې کړي دي، لکه، جماالدين البشي بش، الرقيقي او بدرالدين العيني، دغه جګړې د نهمې هجري قمري پيړۍ پورې ليدل کيږي.

د ابن حجر شاګرد السخاوي هم په ابن خلدون باندې ډيرې نيوکې کړي دي، سخاوي د دروغو پيښو، غلطو نيوکو او دروغجنو داستانونو له مخې په هغه باندې نيوکې کړي دي، چې خپله کينه او حسد يې په خپل کتاب (الدعوة اللحمي) کې ښه څرګند کړی دی؛ خو، په خپل يو کتاب کې يې، د ابن خلدون د کتاب مقدمې ستاينه کړې ده.

بل خوا، داسي يوه ډله هم وه، چې د ابن خلدون د کړنو او خدمتونو ستاينه کوله، دوی هر وخت د هغه خير غوښت، ددې ډلې مشري تقي الدين المقريزي کوله، دی په ځوانی کې د ابن خلدون درسونو ته حاضريده او د هغه د علم، نظرياتو او افکارو څخه ډير اغيزمن شوی وه، مقريزي به د ابن خلدون نوم ډير ستر ياداوه، هغه ته يې د (زموږ سردار، زموږ استاد، ستر مفکر، نابغه، باعمله عالم، بې جوړې قاضي) لقبونه ورکړي وه، په خپل کتاب (السلوکي) کې يې د ابن خلدون د مصر او شام د حالاتو ذکر کړی دی، هغه په خپل يوه کتاب (درود العقود الفريضه) کې د ابن خلدون کتاب (مقدمه) يو ستر شهکار بللی دی، هغه وايي، دا يو بې مثاله کتاب دی، ددې په شان کتاب ليکل د نورو خلکو و وس کار نه دی، دا يو ډير علمي او سائنسي کتاب دی، دا کتاب د کائناتو په حالاتو باندې خبرې کوي او د بيان انداز يې بې مثاله دی.

ابن حجر د مقريزي د ستاينې مخالفت کړی دی، ابن حجر او شاګرد يې السخاوي د مقريزي خبرې دروغ بللي دي، ابن حجر وايي، چې مقريزي فاطمي وه او د ابن خلدون ملاتړی وه، وروسته وايي، چې مقريزي د ابن خلدون په موقف باندې نه پوهيده.

د مقريزي تحقيق، توضيح او تشريح د ابن خلدون سره زيات ورته والی لري، مقريزي د قومونو د زوال په اړه درې ټکي وړاندې کړي دي.

۱- د حکومت په لوړو څوکيو باندې د بدو اشخاصو ټاکل، که مذهبي خلکو وي که نظامي، د هغو لوړو خلکو جهالت، کم علمي او نا اهلي.

۲- د ځمکو د ټيکي ورکولو لوړوالی نسبت عام توليد ته.

۳- د پيسو قيمت غورځيدل.

ددي دري عواملو تائید په مصر او نورو اسلامي ملکونو کې هم شوی دی.

وروسته هغه په ټولنیز حالت باندې خبرې کوي او مصري ټولنه په اوو طبقو باندې ویشي.

۱- دولتي چارواکي

۲- سوداګر، څمکوال او نور امرین

۳- دوکانداران او نور کوچني سوداګر او کوچني څمکوال

۴- بزګر او مزدوران

۵- غریبان، فقهاء او طالبان

۶- ګارګران، فنکاران او ټیټ رتبه خلک

۷- زیات غریب خلک، چې په خیرات باندې خپل ژوند تیروي

په ټولنیزو چارو کې مقریزي د خپل استاذ ابن خلدون نه اغیزمن شوی دی او د خپل استاذ د تحقیق او څیړنې لار یې نیولې ده، لکه، څرنګه چې مو په پورتني مثال کې ولیدل. ابن خلدون هم په خپل کتاب (مقدمه) د قومونو په عروج او زوال باندې خبرې کړې دي، د هغوی علتونه یې، پیسې، محصولات، عدالتي نظام، انصاف او بې انصافي، د مساواتو نه موجودیت او نور بیان کړي دي، چې په یو تمدن باندې ستر اغیز لري.

یو بل مصري مؤرخ، ابوالحاسن ابن تغري بیروي هم د ابن خلدون د علم، لیاقت او فضلیت ډیره ستاینه کړې ده، هغه د خپل استاذ مقریزي په شان د ابن خلدون نه اغیزمن شوی وه، د ابن خلدون د قاضي توب د دندې یې ډیره ستاینه کړې ده، وایي، چې د ډیر علمیت خاوند وه او هر خاص او عام به یې احترام او درناوی کاوه.

د ابن خلدون د کتاب په اړه مهمه خبره داده، چې د هغه وخت زیات علماء او ادیبانو ترې استفاده کوله، د بیلګې په توګه، ابوالعباس القلقاشذي په خپل کتاب (صبح العشاء) کې ځای، ځای ترې ګټه اخیستې ده.

پورته د ابن خلدون د ژوند د مصر حالات په لنډ ډول بیان شول، د ستر مؤرخ ۲۳ کلن ژوند، چې هلته (مصر) کې یې تیر کړ، د شمالي افریقا د ژوند نه بیخي بدل وه، په افریقا کې یې د یو سیاسي شخصی په توګه فعالیت کاوه او په هر ډول سازشونو کې دخیل وه؛ خو، په مصر کې یې بل ډول ژوند غوره کړ، په مصر کې د یو عالم او فاضل شخص په حیث راڅرګند شو، په شام کې یې د امیر تیمور او افریقایي هیوادونو تر منځ دوستانه اړیکې جوړې کړې؛ خو، د مصر په سیاست کې یې هیڅ ونډه نه درلوده.

د ښځې او ماشومان له منځه تللو ډیر خفه او غمجن کړی وه، د هغه په ذهني فشار کې یې زیاته ونډه درلوده، هغه ددې پیښې په اړه وایي: دې پیښې زه ډیر زیات خفه کړم، ما د یوه راهب په توګه د ژوند تیرولو پریکړه وکړه.

دا ډیره مهمه پوښتنه ده، چې دا ستر مؤرخ په مصر کې چیرته اوسیده؟.

ابن حجر د جماالدین البش بشي نه دوه روایتونه رانقل کړي دي، هغه وایي، زه یوه ورځ د الصلیحیاه طرف ته روان وم، چې ابن خلدون مې ولید، خپل کور ته روان وه، د هغه سره یې ځینې معاونین او قاضیان هم وه، ددې څخه مالومیږي، چې ابن خلدون د الصلیحیاه سره نږدې چیرته اوسیده، یانې په هغه ځای کې، چې چیرته یې چې مدرسه درلوده. دویم روایت داسې دی، کله، چې په ۸۰۳ هـ کال د دمشق نه مصر ته راغی او قاضي القضات مقرر شو؛ نو، د نیل د رود په غاړه یې ژوند تیرول غوره کړل، ددې څخه مالومیږي، چې ستر مؤرخ د نیل د رود په کومه کلیواله سیمه کې اوسیده، دا هم شوني ده، چې هغه په الفسطاس کې ژوند تیر کړی وي؛ ځکه، هلته د مصر د امرینو ښکلي کورنه جوړ شوي وه.

د ستر مؤرخ په د وفات په اړه، السخاوي وايي، چې هغه د باب النصر نه بيرون د صوفياء په هديره کې خاورو ته سپارل شوی دی، مقريزي وايي، دغه هديره په اتمه هجري پيړۍ کې د الصليحياه د مدرسي صوفيانو د صوفيانو د ښخولو لپاره اباده کړې وه.

هغه واده کړی وه؛ خو، داسي مالوميږي، چې هغه خپلې ښځې او ماشومانو ته دومره اهميت نه وه ورکړی، دا خبره د هغوی د مرګ نه وروسته ښه جوتيږي، چې هغه يې دومره ډير نه وه غمجن کړی، څومره چې په کار وه، هغه خپله وايي، په ما باندې يو مصيبت راغی، چې زما مال او اولاد يې د قيامت د ورځې پورې ضايع کړ.

که چيرې د هغه مشهور هيوادوال وزير ابوالقاسم مغربي، چې د فاطميانو، عباسيانو، عراق، شام او نورو سلطنتونو د پاچاهانو په دربار کې يې زيات نفوذ درلوده او د ابن خلدون نه درې پيړۍ وړاندې يې ژوند کاوه، هغه ددې لست څخه وباسو؛ نو، په اسلامي تاريخ کې، د ابن خلدون نه زيات پوه، ذهين، د خپلو خواهشاتو لپاره د مذهب قربانوونکی وه او نورې ځانګړتياوې په کې موجودې وې، چې د هغه په شان بل ليکوال کې نشته، زموږ لپاره د ابن خلدون ذهانت، لوړ فکر، د علم پراختيا، پوخوالی او د رايې سختوالی ډير مهم دی. ابن خلدون يوازينی شخص وه، چې فلسفه يې په ټولنيز قالب کې واچوله، دا به ډير ناوړه او غلطه خبره وي، چې موږ د ابن خلدون غوندې شخصيت باندې نيوکه وکړو، په داسې حال کې، چې د هغه په لوړوالي کې هيڅ شک نشته.

ابن خلدون د ۷۴ کلونو په عمر، د ۱۴۰۶ ز کال د مارچ د مياشتې په ۱۵ ورځ وفات شو، دا ستر او رنګين ستوری پريوت او د قاهرې په صوفياء هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

نوربيا